مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۵۴** (از ۵ الی ۱۲ جوزا ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**نگاهی به راه‌کار نظامی امریکا در افغانستان**

راه‌کارهای جنگی امریکا (۲۰۱۸-۲۰۰۱) ........ ۴

ارزیابی راه‌کار نظامی ترمپ ........ ۵

آیندۀ جنگ امریکا در افغانستان ........ ۷

**وچکالي؛ د افغانانو لپاره يو بل ننګوونکی ګواښ**

په افغانستان کې وچکالي ........ ۱۰

اوسنۍ وچکالي او اغېزې يې ........ ۱۱

په افغانستان کې د وچکالۍ لاملونه ........ ۱۱

ولې د وچکالۍ پروړاندې ګډه مبارزه اړينه ده؟ ........ ۱۲

## مقدمه

افغان جګړه د امریکا د بهرني سیاست له مهمو دوسیو څخه ګڼل کېږي؛ ځکه له یوې خوا دا د امریکا تر ټولو اوږده بهرنۍ جګړه بلل کېږي او له بلې خوا دغه جګړه اوس هم په لا ډېر شدت سره دوام لري. په دې جګړه کې د بهرنیو ځواکونو ترڅنګ لسګونه زره افغانانو ته مرګ‌ژوبله اوښتې او لا هم له افغانانو قرباني اخلي.

په دې وروستیو کې د افغانستان لپاره د امریکا پر پوځي تګلاره نیوکې زیاتې شوې؛ ځکه دغې تګلارې هم د کابل-واشنګټن د امنیتي تړون په څېر، هېواد ته امنیت او ثبات رانه وړ. د دغې تګلارې له مخې، په تېرو څو میاشتو کې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د امریکایي ځواکونو هوایي بمبارۍ هم زیاتې شوې دي، چې له کبله یې د ملکي وګړو مرګ ژوبله زیاته شوې ده. دا چې د افغانستان لپاره د امریکا تګلاره له کومو پړاوونو تېره شوه، د ټرمپ د تګلارې ارزونه څه ده او په افغانستان کې د امریکا د حضور راتلونکی څه ډول برېښي؟ هغه پوښتنې دي، چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل په لومړۍ برخه کې یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

د تحلیل دویمه برخه مو بیا په هېواد کې اوسنۍ وچکالۍ او پر خلکو یې کړو اغېزو ته ځانګړې شوې ده. د ناامنیو ترڅنګ وچکالي او اقتصادي ستونزې هم هغه لامل دی، چې له تېرو څو میاشتو راهیسې یې په کور دننه بې‌ځایه شوو کډوالو شمېره لوړه کړې ده. د وچکالۍ له کبله خلکو ته په پراخه کچه اوښتونکي زیانونه داسې مهال دي، چې له طبیعي پېښو سره د مبارزې اداري له خلکو سره د اړتیا وړ مرستو ورتیا هم نه لري. په افغانستان کې د اوسنۍ وچکالۍ وضعیت، اغېزې او لاملونه هغه موضوع ده، چې د تحلیل په دې برخه کې یې په اړه شننه لولئ.

# نگاهی به راه‌کار نظامی امریکا در افغانستان



**حکمت الله ځلاند** / مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

افزایش ناامنی‌ها و چالش‌های امنیتی در افغانستان، بحث‌هایی را میان افغان‌ها در مورد استراتیژی نظامی امریکا برای افغانستان موجب شده است. مفتشان امریکایی نیز چند روز پیش در گزارشی گفتند که راه‌کار نظامی ترمپ برای افغانستان موفق نبوده است.

اعضای پارلمان افغانستان و برخی سیاسیون کشور در این اواخر راه‌کار نظامی کنونی امریکا برای افغانستان و دست‌آورد سه سالهٔ پیمان امنیتی میان دو کشور را مورد انتقاد قرار دادند و برخی اعضای مجلس سنای افغانستان خواستار لغو پیمان امنیتی میان کابل-واشنگتن شدند. به همین دلیل مجلس سنا اعلام کرد که تطبیق و کارآمدی پیمان امنیتی میان کابل و واشنگتن را بررسی می‌کند.[1]

در جانب دیگر، از دست‌آوردهای این راه‌کار نیز گاه‌گاهی در هر دو جانب سخن گفته می‌شود. در مورد تازه‌ای، مشاوران امنیت ملی امریکا و افغانستان سه‌شنبهٔ گذشته (۲۹ می ۲۰۱۸) از طریق یک ویدیو کنفرانس، در بارهٔ تطبیق و دست‌آوردهای استراتیژی جدید امریکا برای افغانستان گفتگو کردند.

[1] Etilaatroz Daily, see it online: http://etilaatroz.com/60940/

نزدیک به ۱۰ ماه از اعلام استراتیژی جدید امریکا برای افغانستان می‌گذرد، مدتی که جنگ در آن شعله‌ور شده و تلفات نظامیان و غیرنظامیان افغانستان نیز به گونهٔ بی‌پیشینه‌ای افزایش یافته است. پرسش اینجاست که راه کار جدید امریکا روی وضعیت افغانستان در عرصه‌های مختلف چه تاثیراتی داشته است؟ و با در نظرداشت وضعیت کنونی کشور، دورنمای این راه‌کار چگونه به نظر می‌رسد؟

## راه‌کارهای جنگی امریکا (۲۰۰۱-۲۰۱۸م)

استراتیژی امریکا برای افغانستان در بیش از یک‌ونیم دههٔ گذشته همواره در حال تغییر بوده و بیشتر توفیقی نیز نداشته است. پس از سال ۲۰۰۱ و آغاز حملات امریکا بر خاک افغانستان در ۷ اکتوبر همین سال، استراتیژی جنگی امریکا در افغانستان به دلائل گوناگون با تذبذب مواجه بوده و به همین دلیل حدود شش بار تغییر پذیرفته است. به این شش مرحلهٔ جنگ امریکا در افغانستان در زیر اشاره شده است:

**نخست**؛ از سال ۲۰۰۱ الی ۲۰۰۵م: در دورهٔ اول ریاست جمهوری جورج دبلیو بوش، امریکا در جنگ افغانستان دو هدف مشخص سقوط رژیم طالبان و از بین بردن اسامه بن لادن را دنبال می‌کرد که یکی از آن دو هدف یعنی سرنگونی رژیم طالبان و بنیان نهادن حکومت جدید در کشور، در همان اوایل برآورده شد. در این مدت، تقریبا همه مناطق کشور در آرامی به سر می‌برد و مقاومت خاصی در برابر نیروهای خارجی و حکومت افغانستان دیده نمی‌شد.

**دوم**؛ از سال ۲۰۰۵ الی ۲۰۰۹م: در دورهٔ دوم جورج بوش و در سال‌های نخست این دوره، نیروهای امریکایی به بازرسی شبانهٔ خانه‌ها و بازداشت افراد سابق طالبان دست زدند که به عنوان یکی از دلائل مهم آغاز دوبارهٔ فعالیت جنگی طالبان نیز مطرح است. به همین دلیل، تمرکز بیشتر به میدان جنگ شد و در سال ۲۰۰٦ شمار نیروهای خارجی در کشور افزایش یافت. در این مدت، جنگ در کشور سال به سال شعله‌ورتر گردیده و تلفات نیروهای امریکایی از ۱۲۹ تن در سال ۲۰۰۵م به ۵۱٦ تن در سال ۲۰۰۹م افزایش یافت.

**سوم**؛ از سال ۲۰۰۹ الی ۲۰۱۱م: افزایش تلفات نیروهای امریکایی در دورهٔ دوم جورج بوش باعث انتقادهای گستردهٔ امریکایی‌ها بر جنگ افغانستان شد و به همین دلیل بارک اوباما تحت شعار پایان دادن به جنگ افغانستان و عراق در سال ۲۰۰۹م به قدرت رسید. اوباما در این سال‌ها شمار نیروهای خویش در افغانستان را به بیش از ۱۰۰ هزار تن افزایش داد و جنگ طالبان و نیروهای خارجی به اوج خود رسید. با تشدید جنگ

امریکا در این سال‌ها نه تنها طالبان شکست نخوردند، بلکه مقاومت طالبان در مقابل نیروهای خارجی روز به روز بیشتر نیز شد. ازاین‌رو، طالبان به حیث یک قدرت سیاسی و نظامی پذیرفته شد و گفتگوها روی گشایش دفتر سیاسی برای این گروه در قطر آغاز شد.

**چهارم**؛ از سال ۲۰۱۲ الی ۲۰۱۴م: براساس راه کار اوباما برای جنگ افغانستان، سربازان امریکایی در افغانستان به تدریج کاهش یافت و برنامۀ سپردن مسؤولیت‌های امنیتی به نیروهای افغان آغاز و تکمیل شد. در این مدت اوباما با امضای پیمان استراتیژیک میان کابل-واشنگتن، در پی ایجاد پایگاه‌های دایمی در افغانستان و امضای پیمان امنیتی بود، ولی به دلیل افزایش تنش‌های کرزی با امریکا این پیمان به امضا نرسید.

**پنجم**؛ از سال ۲۰۱۵ الی ۲۰۱۷م: در دورۀ دوم بارک اوباما و پس از روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی در پی مداخلۀ امریکا در نتائج انتخابات افغانستان، پیمان امنیتی با امریکا بی‌درنگ امضا شد و روابط کابل و واشنگتن دوباره بهبود یافت. یکی دیگر از عوامل بهبود روابط با امریکا نیز اجازۀ دوباره به عملیات شبانه و چشم‌پوشی دولتمردان افغان از کشتارهای عمدی نیروهای خارجی در مناطق مختلف کشور بود. به همین دلیل، اوباما تصمیم کاهش تعداد سربازان خویش در افغانستان را تغییر داد و حدود ۱۰ هزار سرباز خویش را در افغانستان نگهداشت.

**ششم**؛ از سال ۲۰۱۷ الی ۲۰۱۸م: با روی‌کار آمدن ادارۀ جدید در امریکا و به قدرت رسیدن دونالد ترمپ، امریکایی ها بار دیگر با تذبذب در ادامه و یا پایان دادن به جنگ در افغانستان مواجه شدند. به همین دلیل استراتیژی جدید امریکا برای افغانستان که طولانی‌ترین جنگ خارجی امریکا به شمار می‌رود، حدود هشت ماه به تأخیر اعلام شد که در کل، روی تمرکز دوباره بر جنگ و افزایش سربازان امریکایی می‌چرخد.

## ارزیابی راه‌کار نظامی ترمپ

دونالد ترمپ، پیش از رسیدن به ریاست جمهوری تاحدی مخالف ادامۀ جنگ امریکا در افغانستان بود. خاموشی وی در جریان انتخابات و تا چند ماه بعد از انتخابات نیز به تذبذب وی در مورد ادامۀ جنگ امریکا در افغانستان تعبیر می‌شد. به همین دلیل، در جریان بحث‌ها بر سر استراتژی جدید برای افغانستان، گزینۀ خروج کامل نیروها از این کشور نیز مطرح بود. بالآخره در ۲۲ اگست ۲۰۱۷م استراتیژی جدید کشورش را اعلام کرد که در کل به چند نکتۀ ذیل می‌چرخد:

- مبهم ساختن آیندهٔ حضور نظامی امریکا در افغانستان؛
- تمرکز بر جنگ و فرستادن نیروهای بیشتر به افغانستان؛
- موقف‌گیری تند برضد پاکستان و تاکید بر افزایش نقش هند در افغانستان.

با گذشت حدود ۱۰ ماه از اعلام استراتیژی جدید نظامی امریکا برای افغانستان، این استراتیژی از سوی ناظران افغان و امریکایی بنابر دلائلی ناکام[2] ارزیابی می‌شود که در زیر به چند دلیل ناکامی آن پرداخته شده است:

**نخست:** تمرکز و بازگشت نیروهای خارجی به میدان جنگ وضعیت کشور را وخیم‌تر کرده است. وضعیت امنیتی به حدی خراب شده که ولایت‌ها با تهدید سقوط مواجه است و ولسوالی‌ها در ولایات مختلف کشور یکی پی دیگر سقوط می‌کند. تلفات نظامیان و غیرنظامیان افغان به گونهٔ بی‌پیشینه‌ای افزایش یافته است که بربنیاد برخی گزارش‌ها، در هفته‌های اخیر تنها در جریان یک هفته بیش از ۲۵۰ سرباز افغان در میدان جنگ کشته و بیش از ۳۵۰ تن دیگر زخمی می‌شوند.[3] افزایش حملات هوایی نیروهای امریکایی نیز وضعیت را وخیم‌تر نموده و تلفات غیرنظامیان افغان را بیشتر کرده است.

**دوم:** ابهام در حضور آیندهٔ امریکا در افغانستان از لحاظ زمان و شمار نیروها در این کشور، و استراتیژی رسیدن به صلح از راه جنگ که در ۱۷ سال گذشته منتج به صلح در این کشور نشده، تردید کشورهای منطقه را افزایش داده است. به همین دلیل، در ماه‌های اخیر جنگ سرد امریکا با کشورهای دیگر بیش از پیش در افغانستان گرم شده است. به عنوان مثال، جنگ سرد روسیه و امریکا و جنگ نیابتی آن‌ها در افغانستان باعث تیره شدن روابط افغانستان با روسیه نیز شده است.

**سوم:** استراتیژی ترمپ در بهبود وضعیت سیاسی در افغانستان نیز نه تنها کمک نکرده بلکه باعث مشکلات بیشتر نیز شده است. اختلافات داخلی در سطوح مختلف به خصوص میان سران حکومت افزایش یافته و اختلافات قومی و زبانی بیش از هر وقت دیگر بالا گرفته است. پروسهٔ انتخابات پارلمانی که به دلیل مداخلهٔ امریکا در انتخابات گذشته با بی‌اعتمادی گسترده روبه‌رو شده، با ناکامی مواجه است. فساد اداری نیز به شکل سابق و به گونهٔ وسیع در دستگاه حکومت وجود دارد.

---

[2] Watchdog: Afghan strategy failing, May 21, 2018, see online: http://www.rep-am.com/news/national/2018/05/21/watchdog-afghan-strategy-failing/

[3] VOA Dari, In one week, 252 Afghan soldiers were killed, see it online in Dari: https://www.darivoa.com/a/ansdf-casualties/4382706.html

**چهارم:** در کنار وضعیت سیاسی و امنیتی، وضعیت اقتصادی و اجتماعی مردم افغانستان نیز در یک سال اخیر نه تنها بهبود نیافته، بلکه رو به وخامت نیز بوده است. فقر و بی‌کاری به اوج خود رسیده و افغان‌ها به دلیل مشکلات امنیتی و اقتصادی، خانه‌های شان را ترک می‌گویند. بربنیاد اظهارات وزیر مهاجرین، در حال حاضر شمار بی‌جا شده‌گان داخلی به ۱٫۴ ملیون تن رسیده است و تنها از آغاز سال ۲۰۱۸م حدود ۲۰۰ هزار تن به دلیل جنگ و ناامنی‌ها و وضعیت خراب اقتصادی بی‌جا شده‌اند.[4] رقمی که در گزارش دفتر هماهنگی کمک‌های بشری سازمان ملل متحد (OCHA)، ۱۱۴ هزار تن از آغاز سال گفته شده است.[5]

چیزیکه دست‌آورد استراتیژی ترمپ برای افغانستان شمرده می‌شود، فشار امریکا بر پاکستان برای همکاری در پروسهٔ صلح افغانستان است. در این خصوص هرچند فشارها و انزوای پاکستان منجر به آغاز تلاش‌های پاکستان برای بهبود روابط با افغانستان شد، ولی از آنجاییکه در یک سال گذشته با وجود منزوی شدن پاکستان، پیشرفت ملموسی در راستای همکاری صادقانه در صلح افغانستان دیده نشده، به نظر نمی‌رسد این کشور سیاست خویش در قبال افغانستان را به این آسانی تغییر دهد. از سوی دیگر، با توجه به دلائل مختلف، پاکستان چنانچه گفته می‌شود، کنترول آنچنانی بر طالبان ندارد و اگر بخواهد نیز موفق به حاضر کردن طالبان به گفتگوهای مستقیم با حکومت افغانستان نخواهد شد. بنابراین، این فشارها نیز ضامن صلح و ثبات در افغانستان محسوب نمی‌شود.

## آیندهٔ جنگ امریکا در افغانستان

راه‌کار جنگی امریکا برای افغانستان، سرنوشت جنگ و صلح در این کشور را رقم می‌زند؛ به همین دلیل از اهمیت زیادی نیز برخوردار است. اما ۱۷ سال گذشته ثابت ساخته است که صلح واقعبینانه شامل راه‌کار جنگی امریکا در افغانستان نبوده و اکنون نیز سیاست ناکام صلح از راه جنگ را روی دست گرفته است.

با توجه به استراتیژی کنونی امریکا در افغانستان، تصویر آیندهٔ جنگ امریکا در این کشور تیره‌تر به نظر می‌رسد، چون از یک‌سو قضیهٔ صلح و جنگ در افغانستان روز به روز پیچیده‌تر می‌شود و از سوی دیگر امریکا نیز به دلیل منافع خویش در منطقه، آماده به ترک این کشور نیست.

[4] Azadi Radio, Interview with Afghan Minister of Refugees, 29 May 2018, See online: https://da.azadiradio.com/a/29256203.html
[5] Relief Web, Afghanistan Weekly Field Report | 21 -27 May 2018, see online: https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-weekly-field-report-21-27-may-2018

از این رو، مسؤولیت افغان‌ها به خصوص حکومت افغانستان است که برای جلوگیری از تهدیدهای بیشتر و ادامهٔ بی‌پایان جنگ در کشور، در مورد آیندهٔ حضور امریکا در افغانستان تصویر واضحی داشته باشد و برای تمویل و حفظ حکومت نیمه‌جان کنونی، آیندهٔ کشور را با ابهام بزرگ‌تر مواجه نکند. پایان

# وچکالي؛ د افغانانو لپاره یو بل ننګوونکی ګواښ



**ضیاءالاسلام شیراني** / د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

په جګړه‌ځپلي افغانستان کې له ناامنۍ او جګړو راوروسته، اوس‌مهال وچکالي هغه ستره ننګونه ده چې د مېلیونونه افغانانو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی دی.

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري یا "اوچا" په خپل ورستي میاشتني راپور کې ویلي، چې سږکال په افغانستان کې وچکالۍ د هېواد په دوه پر دري برخې یا ۲۰ ولایتونو اغېزه کړې او کابو دوه مېلیونه تنه د خوراکي توکو له سخت کمښت او لوږې سره مخ دي.[6]

تېره اوونۍ ولسمشر اشرف غني هم د نړیوالو مرسته کوونکو ادارو له استازو سره وکتل او د وچکالۍ له کبله رامنځته شوي وضعیت د ښه کولو په موخه، له دغو نړیوالو ادارو څخه د ګډې همکارۍ غوښتونکی شو. د یوناما مشر تاداماچي یاماماتو ژمنه وکړه، چې په جدي ډول دغه ستونزه څاري او خپل استازي یې هم وچکالۍ‌ځپلو سیمو ته استولي دي.[7]

---

[6] OCHA: Drought grips large part of Afghanistan: https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/20180525_ocha_afghanistan_monthly_humanitarian_bulletin_april_2018_en_final.pdf

[7] د نورو معلوماتو لپاره: https://president.gov.af/ps/news/1071072

دا چې په ټوله کې د اقلیمي بدلونونو اغېز او په ځانګړې توګه په افغانستان کې پر وچکالۍ څه دی، د وچکالۍ د اغېزو اوسنۍ حالت او لاملونه څه دي او په دې تړاو اوسمهال څه کول پکار دي؟ هغه پوښتنې دي چې دلته مو ځواب کړې دي.

## په افغانستان کې وچکالي

د اسیا پرمختیایي بانک د راپور له مخې، محلي وچکالي د هېواد په بېلابېلو ځایونو کې له ۳ څخه تر ۵ کلونو پورې راځي. د زونونو په کچه وچکالي بیا له ۹ څخه تر ۱۱ کلونو پورې راګرځي او په ملي کچه وچکالي له ۲۰ څخه تر ۳۰ کلونو پورې یو ځل تکرارېږي.

که وروستیو دوو لسیزو ته ځېر شو، نو دا پنځم ځل دی، چې افغانستان له وچکالۍ سره مخ کېږي. د کورنۍ جګړې پرمهال، په ۱۹۹۵م کال کې، افغانستان له اوږدې وچکالۍ سره مخ شو، چې د ۲۰۰۲م او ۲۰۰۳م کلونو زیاتو ورښتونو له کبله پای ته ورسېده. په ۲۰۰۸م، ۲۰۱۰م او په ۲۰۱۲م کلونو کې افغانستان بیا له وچکالۍ سره مخ شو او دغه مهال یې پر زراعتي حاصلاتو په تېره د غنمو پر حاصلاتو منفي اغېزه وکړه. په ټولیز ډول، دغه وضعیت د افغانستان پر اقتصادي ودې هم اغېزه وکړه. د بېلګې په ډول په ۲۰۰۸م کال کې د زراعت سکتور وده ۲۱ سلنه وه، خو په ۲۰۰۹م کال کې د زراعت سکتور وده ۵۳ سلنه شوه او په همدې کال یې د هېواد په اقتصادي وده هم مثبت اغېز وکړ.

د نړیوال بانک د راپور له مخې، له ۲۰۰۰م کال راهیسې په افغانستان کې تقریباً ٦٫٥ میلیونه وګړي له وچکالۍ څخه اغېزمن شوي، چې په دې کې له وچکالۍ څخه د اغېزمنو وګړو اوسنۍ شمېره نه ده شامله. دغه راز نړیوال بانک په خپل دغه راپور کې اټکلوي، چې که په افغانستان کې شدیده وچکالي راشي، نو دا به هېواد ته یوازې په زراعتي ډګر کې تر ۳ میلیاردو ډالرو پورې زیان واړوي.[8]

---

[8] د نورو معلوماتو لپاره:
http://blogs.worldbank.org/endpovertyinsouthasia/governance/voices/water/ppps/endpovertyinsouthasia/prs/archive/201707

## اوسنۍ وچکالي او اغېزې يې

له تېرو درېيو اوونيو راهيسې حکومتي او نړيوالې ادارې په افغانستان کې د روانې وچکالۍ په تړاو اندېښنې شريکوي. د افغانستان د کرنې او مالدارۍ وزارت په اند، وچکالي د ګواښ د کچې له مخې په هېواد کې په لاندې درېيو کټګوريو کې ويشل شوې:

په لومړۍ درجه کې ۱۵ ولايتونه راځي ( جوزجان، بادغيس، فارياب، غور، ارزګان، زابل، کندهار، هلمند، سمنګان، بلخ، بغلان، کندوز، هرات، فراه او نيمروز). په دويمه درجه کې ٦ ولايتونه راځي (ميدان وردګ، لوګر، تخار، پکتيا، نورستان او سرپل) او په درېيمه درجه کې هم ۱۳ ولايتونه راځي (غزني، دايکندي، باميان، کاپيسا، پروان، پنجشير، کابل، بدخشان، لغمان، کنړ، ننګرهار، پکتيکا او خوست).[9]

په دغو ولايتونو کې تقريباً ۲ ميليونه وګړي د وچکالۍ له کبله له لوږې سره مخ دي، چې له دې سره اوس تقريباً ۱۳ ميليونه خلک د کافي غذا له نشتوالي سره مخ دي او د دغه ګواښ پر وړاندې د مبارزې او زيانمنو شوو کسانو سره د مرستې لپاره ۵۰۰ ميليون ډالرو مرستې ته اړتيا ده.

اندېښنې دا دي چې د روانې وچکالۍ له کبله به د هېواد اقتصادي وضعيت هم اغېزمن شي. ځکه د هېواد اقتصاد تر ډېره پر زراعت متکي دی او داسې اټکل کېږي، چې د غنمو پيداوار به له ۴,۲ ميليونه ټنو څخه تر ۲,۵ ميليونه ټنو پورې راکم شي. له دې ورهاخوا، د روانې وچکالۍ له کبله د کور دننه بې‌ځايه شوو يا داخلي کډوالو د کچې لوړېدو احتمال هم شته، چې دا هم د هېواد پر وضعيت منفي اغېزه کوي.

## په افغانستان کې د وچکالۍ لاملونه

- **نورو هېوادونو ته د افغانستان د اوبو بهېدل**؛ افغانستان د خوړو اوبو سترې زېرمې لري، خو د دغو اوبو يوه ستره برخه د افغانستان ګاونډيو هېوادونو ته بهېږي، چې له امله يې خپله افغانان د اوبو له کمښت سره مخ دي. د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت د معلوماتو پر بنسټ، په هېواد کې هر کال ۷۵ ميلیارده مترکعبه اوبه توليدېږي، خو له دې جملې يوازې ۲۵ سلنه يې افغانان کاروي شي او پاتې ۷۵سلنه يې نورو هېوادونو ته بهېږي.

[9] د نورو معلوماتو لپاره: https://pa.azadiradio.com/a/29254840.html

- **د ورښتونو کمښت**؛ افغانستان په وچه کې راګېر غرنی هېواد دی، چې د اوبو زېرمې يې تر ډېره په موسمي ورښتونو پورې تړلې دي. د اوچا اداري په وروستي راپور کې ویل شوي، چې د تېرو کلونو په پرتله د افغانستان په یوشمېر ولایتونو کې د ورښت کچه ۷۰ سلنه را کمه شوې وه، چې له امله یې په ډېری سیمو کې د اوبو زېرمې وچې او په سیندونو کې د اوبو سطحه را ټيټه شوې او له همدې کبله افغانان د وچکالۍ له ګواښ سره مخ دي.
- **اقلیمي بدلونونه**؛ په ټوله کې د نړۍ په سطحه د فابریکو او بېلابېلو کارخانو د ګازونو او حرارت د تولید له امله د ځمکې د کرې ګرموالی د اقلیمي تغییراتو لامل شوی، خو په افغانستان کې سربېره پر دې، د ځګړې له امله د ګڼو ځنګلونو له منځه تلل هم د اقلیمي تغییراتو یو اړخ بلل کېږي. ځکه د ځنګلونو موجودیت او د ځمکې زرغونتیا هوا سړه ساتي، په غرونو کې د واورو یخچالونه او زېرمې سړې ساتې او په دې توګه یې د ژر ویلې کېدو مخه نیسي.

## ولې د وچکالۍ پروړاندې ګډه مبارزه اړینه ده؟

د اوبو ناسم مدیریت او وچکالي د انساني ژوند پر وړاندې یو له سترو ګواښونو څخه بلل کېږی. د وچکالۍ او موسمي بدلونونو له کبله فقر او لوږه را منځته کېږي او دا بیا د دې لامل ګرځي چې خلک خپلې سیمې پرېږدي او نورو سیمو ته د کار روزګار، خوراک، څښاک او ښه ژوند په لټه کې ګډوالۍ ته اړ شي.

افغانستان چې یو کرنیز هېواد دی او نږدې ۱۵ میلیونه وګړي یې په کلیو او بانډو کې د کرنې له لارې د ورځنې ژوند اړتیاوې پوره کوي، نو وچکالي ورته په هر حالت کې ګرانه تمامېدی شي. ځکه موسمي بدلونونه د خلکو د بې‌کوره کېدو یو له مهمو لاملونو څخه ګڼل کیږي او د اوچا د وروستي راپور پر بنسټ د ۲۰۱۸م کال په "مې" میاشت کې یوازې په بادغیس او غور کې له ۲۱ زرو څخه زیاتو کسانو د وچکالۍ له امله خپل کلي پرېښې او د اوبو او خوړو ترلاسه کولو په موخه هرات ولایت ته راغلي دي.

په هېواد کې د رواني وچکالۍ او ترې پېښو ګواښونو ته په کتلو سره اړتیا ده، چې پر وړاندې یې جدي مبارزه وشي چې تر ټولو مهم یکې د بېلابېلو حکومتي ادارو، وزارتونو او نړیوالو ادارو ترمنځ د ګډې همکارۍ او ګډ کار کولو اړتیا ده. د حکومتي ادارو یا وزارتونو بودیجه دومره نه ده، چې په یوازې سر د رواني وچکالۍ پر وړاندې مبارزه وکړای شي.

د افغانستان د کرنې او مالدارۍ وزارت د معلوماتو له مخې، د وچکالۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره شاوخوا ۵۰۰ میلیونو ډالرو اړتیا ده؛ خو د کرنې او مالدارۍ وزارت په خپله بودیجه کې له ۸ تر ۹ میلیونه ډالره لري. دغه راز د طبیعي پېښو پروړاندې د مبارزې اداري (انډما) هم ټوله بودیجه ٦ میلیون ډالره ده. همدې ته په کتلو سره دوی له وچکالۍ سره د مبارزې په برخه کې د نړیوالو ادارو مرستو ته جدي اړتیا لري.

له دې ټولو سره سره، اړتیا ده چې د روان وضعیت په اړه د مرستو راټولو لړۍ تیزه شي او اړمنو خلکو سره مرستې وشي. خو په اوس مهال کې داسې ښکاري چې د ملګرو ملتونو د مرستو د همغږۍ اداره هم د مرستو د راټولولو له ننګونې سره مخ ده؛ ځکه دوی تر اوسه له وچکالۍ سره د مبارزې په لاره کې له ۵۰۰ میلیون ډالرو څخه یوازې ۲۲ سلنه مرستې راټولې کړې دي.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق ارشد:** حکمت الله ځلاند (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com